وَنُنَزِّلُ مِنَ ٱلْقُرْءَانِ مَا هُوَ شِفَآءٌ وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ ... [الإسراء: ٨٢]

"مونږ په قرآن کې هغه څه را نازلوو چې د مؤمنانو لپاره پکې شفاء او رحمت دی."

# مسنون دم او رقیه

## د سحر ، نظر او هر مرض لپاره مسنون دمونه

Ketabton.com

علیکم بسنتي : شیخ عبدالجلیل اخندزاده

الصارم البتار : شیخ وحید عبدالسلام بالی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

د قرآن کريم آياتونه او د نبي کريم صلى الله عليه وسلم مبارکې دعاګانې او اذکار الله جل جلاله خپلو بندګانو ته له ظاهري او باطني امراضو څخه شفاء ګرځولې.

الله جل جلاله فرمايي:

﴿ وَنُنَزِّلُ مِنَ ٱلْقُرْءَانِ مَا هُوَ شِفَآءٌ وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ وَلَا يَزِيدُ ٱلظَّٰلِمِينَ إِلَّا خَسَارًا ﴾ [الإسراء: ٨٢]

"مونږ په قرآن کې هغه څه را نازلوو چې د مؤمنانو لپاره پکې شفاء او رحمت دی." [الإسراء: ٨٢]

له عوف بن مالك رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: خپل دمونه ماته را وښيئ، کوم دم چې شرک ونه لري پروا نه کوي (يعنې جواز لري). (مسلم)

جابر بن عبد الله رضي الله عنه فرمايي يو کس لړم و چيچلو او مونږ د نبي کريم صلى الله عليه وسلم سره ناست وو نو يو کس وويل چې ای دې الله جل جلاله رسوله آيا دم يې کړم نو نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ستاسې نه چې څوک خپل ورور ته ښيګڼه (فايده) ور رسولی شي نو دا کار د وکړي. (مسند أحمد)

## د علماؤ پدې اجماع (اتفاق) دی چې په هر دم کې لاندې درې شروط پوره شي هغه جائز دی :

١- د الله جل جلاله په کلام (قرآن کريم)، د هغه په پاکو نومونو او صفاتو او د نبي کريم صلى الله عليه وسلم په مأثورو اذکارو او دعاګانو سره دم کول.

٢- دم بايد په لغت عربي او په با مفهومه الفاظو وي.

٣- دم کونکی بايد پدې عقيده وي چې دا دم د الله جل جلاله په اذن سره شفاء ورکوي. (فتح الباري ١٠/١٩٥)

د مسنون دم او رقيه کوچنی رساله په هغو دمونو او رقيو مشتمله ده چه د الله ج په مبارک کتاب قران کريم او د رسول الله صلى الله عليه وسلم په مبارکو احاديثو کې يې يادونه شوي ، دا رساله په حقيقت کې د شيخ عبدالجليل اخندزاده د عليکم بسنتي او شيخ وحيد عبدالسلام بالی د الصارم البتار کتابونو اختصار ده چه په همدې اړوندو موضوعاتو ليکل شوي، هيله ده دا کوچنی رساله ګرانو وطنوالو ته د شفا او خير او مونږ ته د اجر او ثواب ذريعه وګرځي .

پدرنښت

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شرعي دم او رقیه

په لاندې کرښو کې د قرآن کریم له آیتونو او د نبي کریم صلی الله علیه وسلم له مبارکو احادیثو څخه د دم لپاره یو څو جامع اذکار ذکر کوو چې د الله جل جلاله په اذن سره د هر مرض لپاره شفاء دي .

- **د لیونې ، چیچل شوي او د بل هر مرض دم :** مریض د فاتحه په مبارک سورت دم شي. [البخاری (5007)، مسلم (2201)]
- **د هر مرض دم :** مریض د ځان په دې آیت دموي [ رَبِّ( أَنِّي مَسَّنِيَ الضُّرُّ وَأَنتَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ )] . [الانبیاء 83 ]
- **د سحر او هر مرض دم :** مریض د فلق او الناس په مبارکونو سورتونو دم شي. [بخاری (برقم: 2276)، مسلم (برقم: 5863)]
- **د هر مرض دم :** مریض اوه ځلې په [أَسْأَلُ اللَّهَ الْعَظِيمَ ،رَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ أَنْ يَشْفِيَكَ] باندې دم شي.[أبوداود (3106)]
- **د هر مرض دم :** د مریض په دردمن ځای د لاس کیښودل شي درې ځلې د پرې [ بِسْمِ اللَّهِ ] او ورپسې اووه ځلې د پرې [ أَعُوذُ بِعِزَّةِ اللَّهِ وَقُدْرَتِهِ مِنْ شَرِّ مَاأَجِدُ وَأُحَاذِرُ ] وویل شي. [مسلم ( برقم: 5867)]
- **د هر مرض دم :** مریض په [ اللَّهُمَّ رَبَّ النَّاسِ،أَذْهِبِ الْبَاسَ و اشْفِهِ أَنْتَ الشَّافِي لا شِفَاءَ إلا شِفَاؤُكَ، شِفَاءً لا يُغَادِرُ سَقَمًا] باندې دم شي [البخاری (5743)]
- **د هر مرض دم :** مریض په [بِاسْمِ اللَّهِ أَرْقِيكَ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ يُؤْذِيكَ مِنْ شَرِّ كُلِّ نَفْسٍ أَوْ عَيْنِ حَاسِدٍ اللَّهُ يَشْفِيكَ بِاسْمِ اللَّهِ أَرْقِيكَ] دم کړل شي. [سنن الترمذی برقم : (972) ، سنن ابن ماجه برقم : (3523)]
- **د هر مرض دم :** مریض په [بِاسْمِ اللَّهِ يُبْرِيكَ وَمِنْ كُلِّ دَاءٍ يَشْفِيكَ وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ وَشَرِّ كُلِّ ذِي عَيْنٍ] دم کړل شي. [مسلم : (2185) ]
- **د دانو ، زخم او هر مرض دم :** د شهادت ګوته به پاکه خاوره راکاږل شي د[ بِاسْمِ اللهِ، تُرْبَةُ أَرْضِنَا ، بِرِيقَةِ بَعْضِنَا، لِيُشْفَى بِهِ سَقِيمُنَا ، بِإِذْنِ رَبِّنَا ]دم پرې وویل شي او بیا زخم ، دانه او یا بل د تکلیف ځای پرې وموښل شي . [صحیح البخاری : (5745) ]
- **د هر مرض دم :** مریض په [اللَّهُمَّ اشْفِ عَبْدَكَ يَنْكأ لَكَ عَدُوّاً، أَوْ يَمْشي لَكَ إلى صَلاةٍ] دم کړل شي . [احمد : (6600) ]
- **د هر مرض دم :** مریض په [اَللَّهُمَّ رَبَّ النَّاسِ، مُذْهِبَ الْبَأسَ، اشْفِ أَنْتَ الشَّافِي، لَا شَافِيَ إِلَّا أَنْتَ، شِفَاءً لَا يغَادِرُ سَقَماً ] دم کړل شي . [ صحیح البخاری (5743) ، صحیح المسلم (2191)]
- **د ماشوم له نظر نه د ژغورنې او وقایه دم :** ماشوم په [ أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللَّهِ التَّامَّةِ مِنْ كُلِّ شَيْطَانٍ وَهَامَّةٍ وَمِنْ كُلِّ عَيْنٍ لَامَّةٍ ] دم کړل شي. [ابوداود برقم (4737) ]
- **په خوب کې له ویریدو نه د نجات دم :** کله چه مریض په خوب کې وویریده نو دا دعا د ووایي [أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ الله التَّامَّاتِ ، مِنْ غَضَبِهِ وَعِقَابِهِ، وَشَرِّ عِبَادِهِ، وَمِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِينِ، وَأَنْ يَحْضُرُونِ.] [أبي داود (3893) ، احمد (2696) ]

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شرعي رقية (دم)

د هغو څو مسنونو دمونو تشريح چه په قرآن كريم او د رسول الله صلى الله عليه وسلم په صحيحو حديثونو كې ترې يادونه شوې.

۱- د فاتحه مبارک سورت .

﴿ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ ۝ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ۝ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ ۝ مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ ۝ إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ۝ اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ ۝ صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ ﴾ [الفاتحة: 1-7]

عن ابي سعيد رضي الله عنه، قال : انْطَلَقَ نَفَرٌ من أَصْحَابِ النَّبيِّ صَلَّى اللهُ عليه وسلَّمَ في سَفْرَةٍ سَافَرُوهَا، حتَّى نَزَلُوا علَى حَيٍّ من أَحْيَاءِ العَرَبِ، فَاسْتَضَافُوهُمْ فأبَوْا أَنْ يُضَيِّفُوهُمْ، فَلُدِغَ سَيِّدُ ذلكَ الحَيِّ، فَسَعَوْا له بكُلِّ شيءٍ، لا يَنْفَعُهُ شيءٌ، فَقالَ بَعْضُهُمْ: لو أَتَيْتُمْ هَؤُلَاءِ الرَّهْطَ الَّذِينَ نَزَلُوا؛ لَعَلَّهُ أَنْ يَكونَ عِنْدَ بَعْضِهِمْ شَيءٌ، فأتَوْهُمْ، فَقالوا: يا أَيُّهَا الرَّهْطُ، إنَّ سَيِّدَنَا لُدِغَ، وَسَعَيْنَا له بكُلِّ شَيءٍ، لا يَنْفَعُهُ؛ فَهلْ عِنْدَ أَحَدٍ منكُم مِن شَيءٍ؟ فَقالَ بَعْضُهُمْ: نَعَمْ، وَاللَّهِ إنِّي لَأَرْقِي، وَلَكِنْ وَاللَّهِ لَقَدِ اسْتَضَفْنَاكُمْ فَلَمْ تُضَيِّفُونَا، فَما أَنَا بِرَاقٍ لَكُمْ حتَّى تَجْعَلُوا لَنَا جُعْلًا، فَصَالَحُوهُمْ علَى قَطِيعٍ مِنَ الغَنَمِ، فَانْطَلَقَ يَتْفِلُ عليه، وَيَقْرَأُ: (الحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ العَالَمِينَ)، فَكَأنَّما نُشِطَ مِن عِقَالٍ، فَانْطَلَقَ يَمْشِي وَما به قَلَبَةٌ، قالَ: فأوْفَوْهُمْ جُعْلَهُمُ الَّذي صَالَحُوهُمْ عليه، فَقالَ بَعْضُهُمْ: اقْسِمُوا، فَقالَ الَّذي رَقَى: لا تَفْعَلُوا حتَّى نَأْتِيَ النَّبيَّ صَلَّى اللهُ عليه وسلَّمَ فَنَذْكُرَ له الَّذي كَانَ، فَنَنْظُرَ ما يَأْمُرُنَا، فَقَدِمُوا علَى رَسولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عليه وسلَّمَ فَذَكَرُوا له، فَقالَ: وَما يُدْرِيكَ أنَّهَا رُقْيَةٌ؟ ثُمَّ قالَ: قدْ أَصَبْتُمْ، اقْسِمُوا، وَاضْرِبُوا لي معكُمْ سَهْمًا. فَضَحِكَ رَسولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عليه وسلَّمَ. [البخاري(5007) ، مسلم(2201)]

په صحيحنو كې له ابو سعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دی چه فرمايي، د رسول الله صلى الله عليه وسلم څو ملګري په سفر تللي ول چه مخكې يې هم همدا سفر كړی وو، تردې چه د عربو له يوې قبيلې سره يې شپه شوه ، له هغې قبيلې يې وغوښتل چه د شپې ډوډی ورته راوړي خو هغوی انكار وكړ . د همغې قبيلې مشر مار وچیچه د قبيلې افرادو ډيره هڅه وكړه چه علاج يې وكړي خو څه ګټه يې ونكړه لدوی نه ځينو وويل چه راځئ هغو خلكو ته ورشو چه له مونږ سره يې شپه شوې ګوندې له هغوی سره كوم علاج موجود وي . نو صحابه وو ته راغلل او ورته يې وويل چه ای پړاو اچونكو زمونږ د قبيلې مشر مار چیچلی مونږ ډيره هڅه وكړه خو څه نتيجه يې ورنكړه آيا له تاسو سره يې كوم علاج شته ؟ يوه صحابي ورته وويل چه مونږ له تاسو د شپې ډوډی وغوښته خو تاسو رانكړه ، په والله زه يې دم كولی شم خو دا چه مونږ له تاسو ډوډی وغوښته او را مو نكړه ، زه دم كولی شم خو نه يې دموم تر څو راته يو څه ونه منی. نو هغوی ورته د پسونو يوه رمه چه ديرش پسونه كيدل ومنله دم كونكی په (الحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ العَالَمِينَ)، دم كړ او د چیچلو په ځای يې لاړې پورې كړې ، پيښې يې خلاصې شوې او ورو ورو پرته لدې چه د درد احساس وكړي په لاړ روان شو له وعدې سره سم يې پسونه دوی ته وركړل ځينو يې وويل چه راځئ دا پسونه خپل منځ كې وويشو خو هغه چا چه دم كړی وو ويې ويل چه لږ صبر وكړی له رسول الله صلى الله عليه وسلم نه به پوښتنه وكړو چه هغه څنګه امر كوي د رسول الله صلى الله عليه وسلم خدمت ته ورسيدل او واقعه يې ورته بيان كړه رسول الله صلى الله عليه وسلم له هغه چا نه چه فاتحه سورت يې لوستی وو وپوښتل

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه ته ځنګه پوه شوې چه د فاتحه سورت رقيه او علاج دی بيا يې وفرمايل چه صحي کار مو کړی پسونه مو خپل منځ کې وويشی او زما برخه هم بيله کړی . او رسول الله صلى الله عليه وسلم وخندل .

عن خارجه بن الصلت عن عمِّهِ أنَّهُ أتى رسولَ اللَّهِ صلَّى اللَّهُ عليهِ وسلَّمَ ، فأسلَمَ ثمَّ أقبلَ راجعًا من عندِهِ فمرَّ علَى قومٍ عندَهُم رجلٌ مَجنونٌ موثَقٌ بالحديدِ فقالَ أهْلُهُ إنَّا حُدِّثنا أنَّ صاحبَكُم هذا قد جاءَ بخيرٍ فَهَل عندَكَ شيءٌ تداويهِ فرقيتُهُ بفاتحةِ الكتابِ فبرَأ فأعطَوني مائةَ شاةٍ فأتيتُ رسولَ اللَّهِ صلَّى اللَّهُ عليهِ وسلَّمَ فأخبرتُهُ فقالَ هل إلَّا هذا وقالَ مسدَّدٌ في موضعٍ آخرَ هل قلتَ غيرَ هذا قلتُ لا قالَ خُذها فلَعَمري لَمَن أكَلَ برقيةِ باطلٍ ، لقد أكَلتَ برقيةِ حقٍّ . [سنن ابوداود (3896) ]

خارجه بن الصلت له خپل تره نه روايت کوي چه د رسول الله صلى الله عليه وسلم خواته د اسلام راوړلو لپاره حاضر شو ، بيرته کور ته راتللو چه په لاره کې له داسې يوه قوم سره مخامخ شو چه يو کس ورسره په ځنځيرونو تړل شوی وو ، د ليونی کور والا لده نه غوښتنه وکړه چه مونږ خبر شوی يو چه ستاسو ملګري (رسول الله صلى الله عليه وسلم) له ځان سره خير راوړی نو آيا له تاسو سره څه شته چه ددې ليوني علاج پرې وکړی ؟ ما (هغه ليونی) په سورت فاتحه باندې دم کړو نو سمدستي روغ شو . ما ته يې سل پسونه راکړل زه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ورغلم خبر مې ورکړ ، هغه وويل : له سورت فاتحه پرته د نور څه ندي ويلي ؟ ما ورته وويل نه ! نبی صلى الله عليه وسلم وفرمايل : دا قبولې کړه ، يقيناً ځوک چه په باطل دم خوراک وي نو تا په حق دم باندې خوراک کړی .

٢ - د ايوب عليه سلام دعا : [ رَبِّ ﴿ أَنِّي مَسَّنِيَ الضُّرُّ وَأَنتَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ ﴾] . [الانبياء 83 ]

«زما ربه ( زه ناروغ يم او ته د ټولو مهربانانو نه مهربانه يې . »

کله چه ايوب عليه سلام په ډير سخت او لاعلاجه تکليف اخته شو نو له الله نه يې پدې مبارکو کلماتو دعا وغوښته، الله عزوجل يې دعا قبوله او له مريضی نه يې جوړ کړ . قرآن کريم يې په خپله بيان داسې کوي :

﴿ وَأَيُّوبَ إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُ أَنِّي مَسَّنِيَ الضُّرُّ وَأَنتَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ ۝ فَاسْتَجَبْنَا لَهُ فَكَشَفْنَا مَا بِهِ مِن ضُرٍّ ۖ وَآتَيْنَاهُ أَهْلَهُ وَمِثْلَهُم مَّعَهُمْ رَحْمَةً مِّنْ عِندِنَا وَذِكْرَىٰ لِلْعَابِدِينَ ۝ ﴾ [ الأنبياء 83-84] او کله چه ايوب عليه سلام له خپل رب نه غوښتنه وکړه : " زه ناروغ يم او ته د ټولو مهربانانو نه مهربانه يې " مونږ د هغه دعا قبوله کړه او له هغه څخه مو تکليف ايسته کړ ، او يوازې د هغه کورنی غړي مو هغه ته ورنه کړل ، بلکې پر هغو سربيره مو همغومره نور هم ورکړل ، د خپل ځانګړي رحمت په ډول او ددي لپاره چه دا د عبادت کوونکو لپاره يو درس وي .

٣ - دوه آخري سورتونه(سورة الفلق ، سورة الناس ) :

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ : ﴿ قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلۡفَلَقِ ۝ مِن شَرِّ مَا خَلَقَ ۝ وَمِن شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ ۝ وَمِن شَرِّ ٱلنَّفَّٰثَٰتِ فِى ٱلۡعُقَدِ ۝ وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ ﴾ [صحيح البخاری (5016) ، صحيح المسلم (2192) ]

(c) ketabton.com: The Digital Library

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ : ﴿قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ ۝ مَلِكِ ٱلنَّاسِ ۝ إِلَٰهِ ٱلنَّاسِ ۝ مِن شَرِّ ٱلۡوَسۡوَاسِ ٱلۡخَنَّاسِ ۝

ٱلَّذِي يُوَسۡوِسُ فِي صُدُورِ ٱلنَّاسِ ۝ مِنَ ٱلۡجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ﴾ [صحيح البخاری (5016) ، صحيح المسلم (2192) ]

له عايشه رضي الله عنها نه روايت دى چه ويې فرمايل:

« أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم كَانَ، إِذَا اشْتَكَى، يَقْرَأُ عَلَى نَفْسِهِ بِالْمَعَوِّذَاتِ، وَيَنْفُثُ فَلَمَّا اشْتَدَّ وَجَعُهُ كُنْتُ أَقْرَأُ عَلَيْهِ، وَأَمْسَحُ بِيَدِهِ ، رَجَاءَ بَرَكَتِهَا ». [صحيح البخاری (5016) ، صحيح المسلم (2192) ]

كله به چه رسول الله صلى الله عليه وسلم ناروغ شو نو خپل ځان به يې په معوذاتو (سورت الفلق او سورت الناس ) چف كولو كله به چه تكليف پرې سخت شو نو ما به پرې دا سورتونه ويل او مبارک لاس به مې ورته د بركت په نيت د هغه په وجود راكاږه .

۴- أَسْأَلُ اللَّهَ الْعَظِيمَ ، رَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ أَنْ يَشْفِيَكَ (اوه ځلې ) [سنن ابوداود (3106) ، سنن الترمذى (2083) ]

«زه د لوى الله نه دعا غواړم ، هغه چه د لوى عرش څښتن دى ، چه تا ته شفا دركړي . »

عن عبدالله بن عباس رضي الله عنهما- مرفوعاً: «مَن عادَ مَريضا لم يحضُرهُ أجلُه، فقال عنده سَبعَ مرات: (أسأل الله العظيم، ربَّ العرشِ العظيم، أن يَشفيك)، إلا عافاه الله من ذلك المرض». [ ابوداود (3106) ، الترمذى (2083) ]

له ابن عباس رضى الله عنهما نه روايت دى چه رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : څوک چه د يوه مريض پوښتنې ته ورغى چه اجل يې نه وي رسيدلى او دا دعا «أَسْأَلُ اللهَ العَظِيمَ، رَبَّ العَرْشِ العَظِيمِ، أَنْ يَشْفِيَكَ» « زه د لوى الله نه دعا غواړم ، هغه چه د لوى عرش څښتن دى ، چه تا ته شفا دركړي . » اوه (۷) ځلې ووايي نو الله به خامخا مريض ته له هغه مريضى نه شفا وركړي .

۵ - دري ځلې (بِسْمِ اللَّهِ) او ور پسې اووه ځلې (أَعُوذُ بِعِزَّةِ اللَّهِ وَقُدْرَتِهِ مِنْ شَرِّ مَاأَجِدُ وَأُحَاذِر).[مسلم (2202) ]

« په نوم د الله تعالى »« پناه غواړم په عزت او قدرت د الله تعالى باندې له شره د تكليف هغه نه چه زه يې مومم او ترې ويريږم»

عن أَبي عبد اللَّه عثمانَ بنِ العَاص، رضي اللَّه عنه أَنه شَكا إِلى رسول اللَّه صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّم وَجعاً يجِدُهُ في جَسدِه، فقال له رسول اللَّه صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّم:«ضَعْ يدَكَ عَلى الذي يَأْلَمُ من جَسَدِكَ وَقل: بِسمِ اللَّهِ ثَلاثاً وَقُلْ سَبْعَ مَرَّات: أَعُوذُ بِعِزَّةِ اللَّهِ وَقُدْرَتِهِ مِن شَرِّ مَا أَجِدُ وَأُحاذِرُ » [ صحيح المسلم (2202) ، الترمذى (2080) ]

له ابو عبدالله عثمان بن العاص رضى الله نه روايت دى چه ده له هغه مرض نه چه په وجود كې يې احساسوه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته شكايت وكړ ، رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل : ښى لاس د دوجود په هغې برخې كيږده چه درد كوي دري (۳) ځلې « بسم الله» او بيا (۷) ځلې «أَعُوذُ بِعِزَّةِ اللَّهِ وَقُدْرَتِهِ مِن شَرِّ مَا أَجِدُ وَأُحاذِرُ".« په نوم د الله تعالى »« پناه غواړم په عزت او قدرت د الله تعالى باندې له شره د تكليف هغه نه چه زه يې موم او ترې ويريږم»ووايه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

٦ - اللَّهُمَّ رَبَّ النَّاسِ،أَ ذْهِبِ الْبَاسَ و اشْفِهِ أَنْتَ الشَّافِي لا شِفَاءَ إِلا شِفَاؤُكَ، شِفَاءً لا يُغَادِرُ سَقَمًا. [البخارى (5743)]

« يا الله اى د خلكو پروردگاره ، مريضي يې ختمه كړه ،او شفا ورته نصيب كړه او ته شفا وركونكى يې ، نشته شفا مگر ستا شفا ، داسې شفا وركړه چه هيڅ مريضي وركې پاتې نشي .»

عن عائشة رضي الله عنها مرفوعاً: أن النبيَّ صلى الله عليه وسلم: كَانَ يَعُودُ بَعْضَ أهْلِه يَمْسَحُ بيدِه اليُمْنَى، ويقول: «اللَّهُمَّ رَبَّ النَّاسِ، أذْهِب البَأسَ، اشْفِ أنْتَ الشَّافِي لاَ شِفَاءَ إلاَّ شِفاؤكَ، شِفَاءً لاَ يُغَادِرُ سَقماً. » [صحيح البخارى (5743)، صحيح المسلم (2191)]

له حضرت عائشه رضى الله عنها نه مرفوعاً روايت دى چه كله به رسول الله صلى الله عليه وسلم د خپلې كومې بي بي عيادت (پوښتنه) ته ورته نوپه خپل ښئ لاس به يې لمس كوله او دا دعا به يې ويله : «اللَّهُمَّ رَبَّ النَّاسِ، أذْهِب البَأسَ، اشْفِ أنْتَ الشَّافِي لاَ شِفَاءَ إلاَّ شِفاؤكَ، شِفَاءً لاَ يُغَادِرُ سَقماً. » « يا الله اى د خلكو پروردگاره ، مريضي يې ختمه كړه ،او شفا ورته نصيب كړه او ته شفا وركونكى يې ، نشته شفا مگر ستا شفا ، داسې شفا وركړه چه هيڅ مريضي وركې پاتې نشي .»

٧- بِاسْمِ اللَّهِ أَرْقِيكَ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ يُؤْذِيكَ مِنْ شَرِّ كُلِّ نَفْسٍ أَوْ عَيْنِ حَاسِدٍ اللَّهُ يَشْفِيكَ بِاسْمِ اللَّهِ أَرْقِيكَ. [صحيح المسلم (2185)].

« د الله تعالى په نوم د دموم له هر هغه شي نه چه تاته تكليف دركوي له شر د هر نفس او د هر حسد كونكي د سترگي (له زخم) نه ، الله د شفا دركړي د الله په نوم د دموم . »

عن أَبي سعيد الخدري رضي الله عنه: أن جبريلَ أتَى النَّبيَّ - صلى الله عليه وسلم - فَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ، اشْتَكَيْتَ؟ قَالَ: «نَعَمْ» قَالَ: «بِسْمِ الله أرْقِيكَ، مِنْ كُلِّ شَيْءٍ يُؤْذِيكَ، مِنْ شَرِّ كُلِّ نَفْسٍ أَوْ عَيْنِ حَاسِدٍ، اللهُ يَشْفِيكَ، بِسمِ اللهِ أُرقِيكَ.» [مسلم (2186)]

له حضرت ابو سعيد خدرى رضى الله عنه نه روايت دى چه جبريل عليه سلام ، رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغى او ويې فرمايل : اى محمد صلى الله عليه وسلم ، ته ناروغ شوى يې ؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل : هو . جبريل عليه سلام ورته وفرمايل (دعا يې او ورته وكړه او دم يې كړ) : « بِسْمِ الله أرْقِيكَ، مِنْ كُلِّ شَيْءٍ يُؤْذِيكَ، مِنْ شَرِّ كُلِّ نَفْسٍ أَوْ عَيْنِ حَاسِدٍ، اللهُ يَشْفِيكَ، بِسمِ اللهِ أُرقِيكَ» . « د الله تعالى په نوم د دموم له هر هغه شي نه چه تاته تكليف دركوي له شر د هر نفس او د هر حسد كونكي د سترگي (له زخم) نه ، الله د شفا دركړي د الله په نوم د دموم . »

٨ - بِاسْمِ اللَّهِ يُبْرِيكَ وَمِنْ كُلِّ دَاءٍ يَشْفِيكَ وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ وَشَرِّ كُلِّ ذِي عَيْنٍ. [صحيح المسلم (2185)]

« د الله تعالى په نوم ، هغه د تا ته له هر مرض نه شفا دركړي ، د حسد كونكى له شر نه چه كله حسد كوي او د هر نظر لگيدونكي له شر نه .»

عن عائشةَ رَضِيَ اللهُ عنها أنَّها قالَت: كان إذا اشتَكَى رَسولُ اللهِ صلَّى اللهُ عليه وسلَّم رَقَاهُ جِبريلُ،: « بِاسْمِ اللَّهِ يُبْرِيكَ وَمِنْ كُلِّ دَاءٍ يَشْفِيكَ وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ وَشَرِّ كُلِّ ذِي عَيْنٍ. » [صحيح المسلم (2185)، مسند احمد (2572)]

له حضرت عايشه رضى الله عنه نه روايت دى چه هغه فرمايي : كله به چه به رسول الله صلى الله عليه وسلم ته څه تكليف پيدا شو نو جبريل عليه وسلم به پدې دم دمولو : « بِاسْمِ اللَّهِ يُبْرِيكَ وَمِنْ كُلِّ دَاءٍ يَشْفِيكَ وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ وَشَرِّ كُلِّ ذِي عَيْنٍ. » « د الله تعالى په نوم ، هغه د تا ته له هر مرض نه شفا دركړي ، د حسد كونكى له شر نه چه كله حسد كوي او د هر نظر لگيدونكي له شر نه .» [صحيح المسلم (2185)، مسند احمد (2572)]

(c) ketabton.com: The Digital Library

٩ - بِسمِ اللهِ، تُرْبَةُ أرْضِنا، بِرِيقَةِ بَعْضِنا، يُشْفَى بِهِ سَقِيمُنا، بِإذْنِ رَبِّنا. [ صحيح البخارى (2745) صحيح المسلم (2194) ، مسند احمد (24617) ]

« د الله په نوم ، کله چه زمونږ د ځمکې خاوره زمونږ د ځینو خلکو له لاړو سره یوځای شي د الله په حکم سره وربانديږ زمونږ مریض جوړیږي ».

عَنْ عائشة رضي الله عنها: أنَّ النَّبيَّ صلى الله عليه وسلم- كَانَ إِذَا اشْتَكى الإنْسَانُ الشَّيْءَ مِنْهُ، أَوْ كَانَتْ بِهِ قَرْحَةٌ أَوْ جُرْح، قَالَ النبيُّ صلى الله عليه وسلم- بأُصبعِهِ هكذا - ووضع سفيان بن عيينة الراوي سَبَابَتَهُ بالأرْض ثُم رَفَعَها- وقالَ: «بِاسْمِ اللهِ، تُرْبَةُ أرْضِنا، بِرِيقَةِ بَعْضِنا، لِيُشْفَى بِهِ سَقِيمُنا، بِإِذْنِ رَبِّنا».[البخارى (2745) ،المسلم (2194)]

عایشه رضي الله عنها نه روایت دی چه فرمایي : چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته به کله چا په بدن کې د کوم ځای د تکلیف شکایت وکړو او یا به وربانډی څه دانه او زخم وو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم به ګوته داسې کړه ، سفیان بن عیینة د حدیث راوي خپله ګوته په ځمکه کیښوده او بیا به یې اوچته کړه او دا کلمات یې وربانديږ وویل : «بِاسْمِ اللهِ، تُرْبَةُ أرْضِنا، بِرِيقَةِ بَعْضِنا، لِيُشْفَى بِهِ سَقِيمُنا، بِإذْنِ رَبِّنا».« د الله په نوم ، کله چه زمونږ د ځمکې خاوره زمونږ د ځینو خلکو له لاړو سره یوځای شي د الله په حکم سره وربانديږ زمونږ مریض جوړیږي ».

١٠ - اللَّهُمَّ اشْفِ عَبْدَكَ يَنْكأ لَكَ عَدُوّاً، أوْ يَمْشي لَكَ إلى صَلاةٍ . [ سنن ابوداود (3107) ، مسند احمد (6600)]

« یا الله ! خپل بنده ته شفا ورکړه چه (که جوړ شي) ستا کوم دښمن ته به ځواب ورکړي او یا به ستا (د رضا) لپاره لمانځه ته لاړ شي »

عن عبد اللّه بن عمرو بن العاص رضي اللّه عنهما قال: قال النبيّ صلى اللّه عليه وسلم: "إذَا جاءَ الرَّجُلُ يَعُودُ مَرِيضاً فَلْيَقُلِ: "اللَّهُمَّ اشْفِ عَبْدَكَ يَنْكأ لَكَ عَدُوّاً، أوْ يَمْشي لَكَ إلى صَلاةٍ". [ سنن ابوداود (3107) ، مسند احمد (6600)]

له عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما نه روایت دی چه فرمایي : نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي کله چه یو کس راغی چه مریض وو نو ( دا دم پرې ) ووایئ : "اللَّهُمَّ اشْفِ عَبْدَكَ يَنْكأ لَكَ عَدُوّاً، أوْ يَمْشي لَكَ إلى صَلاةٍ"

« یا الله ! خپل بنده ته شفا ورکړه چه (که جوړ شي) ستا کوم دښمن ته به ځواب ورکړي او یا به ستا (د رضا) لپاره لمانځه ته لاړ شي »

١١ - اَللَّهُمَّ رَبَّ النَّاسِ، مُذْهِبَ الْبَأسَ، اشْفِ أَنْتَ الشَّافي، لَا شَافِي إلَّا أنْتَ، شِفَاءً لَا يغادِرُ سَقَماً. [البخارى (5742) ]

یا الله، ای د خلکو پروردګاره ، ای د سختی او مریضی لمنځه وړونکیه، ته(دې مریض ته ) شفا ورکړه یواځې شفا ورکونکی ته یې ، او له تا پرته هیڅ بل شفا ورکونکی نشته ، داسې شفا یې نصیب کړه چه هیڅ درد او مرض پکې پاتې نه شي .

حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ، عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ، قَالَ دَخَلْتُ أَنَا وَثَابِتٌ، عَلَى أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ فَقَالَ ثَابِتٌ يَا أَبَا حَمْزَةَ اشْتَكَيْتُ. فَقَالَ أَنَسٌ أَلاَ أَرْقِيكَ بِرُقْيَةِ رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ بَلَى. قَالَ "اللَّهُمَّ رَبَّ النَّاسِ مُذْهِبَ الْبَاسِ اشْفِ أَنْتَ الشَّافِي لاَ شَافِيَ إِلاَّ أَنْتَ، شِفَاءً لاَ يُغَادِرُسَقَمًا " . [ صحيح البخارى (5742) ، سنن الترمذى(973)]

په صحیح البخاري کې له عبدالعزیز بن صهیب رضی الله نه روایت دی چه فرمایي : زه او ثابت د أنس بن مالک رضی الله عنه خواته ورغلو ، ثابت وویل : ای ابو حمزه مریض شوی یم ، أنس رضی الله عنه وفرمایل : آیا د رسول الله صلی الله علیه وسلم دعا او دم دربانديږ ونه وایم ؟ ویې ویل : ولې نه . أنس رضي الله عنه وفرمایل : «اَللَّهُمَّ رَبَّ النَّاسِ، مُذْهِبَ

(c) ketabton.com: The Digital Library

الْبَأسَ، اشْفِ أَنْتَ الشَّافي، لَا شَافِي إلَّا أَنْتَ، شِفَاءً لَا يغَادِرُ سَقَماً» يا الله ، اى د خلکو پروردګاره ،اى د سختۍ او مريضۍ لمنځه وړونکيه ، ته ( دې مريض ته ) شفا ورکړه يواځې شفا ورکونکی ته يې ، او له تا پرته هيڅ بل شفا ورکونکی نشته ، داسې شفا يې نصيب کړه چه هيڅ درد او مرض پکې پاتې نه شي .

١٢ - أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللَّهِ التَّامَّةِ مِنْ كُلِّ شَيْطَانٍ وَهَامَّةٍ وَمِنْ كُلِّ عَيْنٍ لَامَّةٍ. [ صحيح البخارى (3371)]

« زه تاسو لره پناه غواړم په کلماتو د الله تعالى باندې چه کافي دى له هر شيطان او هر ضرري حيوان نه او له هرې هغې سترګې نه چه را ټولونکې د شر ده . »

عَنْ ابنِ عَبَاسٍ رضي الله عنهما ، قَالَ : «كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يُعَوِّذُ الْحَسَنَ وَالْحُسَيْنَ وَيَقُولُ: «إِنَّ أَبَاكُمَا كَانَ يُعَوِّذُ بِهَا إِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ: أعيذكما بِكَلِمَاتِ اللَّهِ التَّامَّةِ مِنْ كُلِّ شَيْطَانٍ وَهَامَّةٍ، وَمِنْ كُلِّ عَيْنٍ لَامَّةٍ ». [ صحيح البخارى (3371) ، سنن ابو داود (4737)، مسند احمد (2434)]

په يوه صحيح حديث کې له ابن عباس رضى الله عنه روايت شوى چه فرمايي : نبي صلى الله عليه وسلم به حسن او حسين رضى الله عنهم( په يوې دعا ) الله ته سپارل تر څو يې ساتنه وکړي او ويل به يې دا داسې دعا ده چه ستاسو پلار (ابراهيم عليه سلام) به هم پرې ( خپل اولادونه) اسماعيل او اسحاق عليهم سلام الله ته سپارل (هغه دعا داده): «أعيذكما بِكَلِمَاتِ اللَّهِ التَّامَّةِ مِنْ كُلِّ شَيْطَانٍ وَهَامَّةٍ، وَمِنْ كُلِّ عَيْنٍ لَامَّةٍ » « زه تاسو لره پناه غواړم په کلماتو د الله تعالى باندې چه کافي دى له هر شيطان او هر ضرري حيوان نه او له هرې هغې سترګې نه چه را ټولونکې د شر ده . »

١٣ - أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّاتِ، مِنْ غَضَبِهِ وَعِقَابِهِ، وَشَرِّ عِبَادِهِ، وَمِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِينِ، وَأَنْ يَحْضُرُونِ. [أبي داود (رقم:3893) ]

زه پناه غواړم د الله تعالى په هغو کلمو چه کاملې دي د هغه له غضب او د بنده ګانو له شره يې او د شيطانانو له وسوسو نه او له دې نه چه هغوى (پيريان) د په ما راشي .

عَنْ عبدِ اللهِ بنِ عمرو بنِ العاصِ رضي الله عنهما أنَّ رسولَ الله صلى الله عليه وسلم قال: "إِذَا فَزِعَ أَحَدُكُمْ فِي النَّوْمِ فَلْيَقُلْ: أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّةِ مِنْ غَضَبِهِ وَعِقَابِهِ، وَشَرِّ عِبَادِهِ، وَمِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِينِ وَأَنْ يَحْضُرُونِ، فَإِنَّهَا لَنْ تَضُرَّهُ" . [سنن أبي داود (رقم:3893) ، و مسند احمد (رقم:2696) ]

له عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما نه روايت دى چه رسول الله صلى الله وسلم وفرمايل : کله چه له تاسو نه څوک په خوب کې ووېريد نو دا دعا د ووايي: أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّةِ مِنْ غَضَبِهِ وَعِقَابِهِ، وَشَرِّ عِبَادِهِ، وَمِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِينِ وَأَنْ يَحْضُرُونِ، زه پناه غواړم د الله تعالى په هغو کلمو چه کاملې دي د هغه له غضب او د بنده ګانو له شره يې او د شيطانانو له وسوسو نه او له دې نه چه هغوى (پيريان) د په ما راشي . نو هغه ته به زيان و نه شي رسولی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د سحر (جادو) علاج په شرعي طريقه سره

هغه څه چې د سحر (جادو) نه ځان پرې ساتل کيږي:

۱- ټول فرائض او واجبات ادا کول، له ټولو محرماتو ځان ژغورل او له ټولو ګناهونو څخه توبه ويستل.

۲- په کثرت سره د قرآن کريم تلاوت کول، هره ورځ بايد د قرآن کريم يوجزء (يوه برخه) تلاوت کړای شي.

۳- آيت الکرسي له هر فرض لمانځه نه وروسته،د خوب پر وخت، او د سبا او ماښام پروخت لوستل.

۴- معوذات (قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ...، قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ...، قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ...) درې درې ځلې سبا، ماښام او د خوب پر وخت لوستل.

۵- د سبا او ماښام اذکار، له فرض لمانځه وروسته اذکار، او دخوب پر وخت اذکار په پابندی سره ويل. (البخاري، مسلم، الترمذي، ابوداود، الحاکم)

٦- د امکان په صورت کې د سهار په نهره اووه دانې عجوة خورما خوړل، نبي صلى الله عليه وسلم فرمايي: څوک چې سهار اووه دانې عجوة وخوري هغې ته به پدې ورځ کې زهر او سحر څه زيان و نه رسوي. (البخاري، مسلم)

يادونه: د امام مسلم په يو روايت کې د مدينې منورې عامه خورما ذکر شوې، د بعضې علماؤ نظر دادی چې هره خورما وخوړل شي د الله جل جلاله نه اميد دی چې دا فايده به پرې مرتبه شي.

که چيرته په چا سحر وشي نو هغه (مريض) د لاندې لاره اختيار کړي:

۱- غالبا ساحران چې کله سحر کوي نو په يوه جامد او محسوس توکي يې کوي او بيا هغه چيرته پټ ايږدي او غوټې ورته لږوي، نو د سحر له منځه وړلو تر ټولو مؤثره لاره داده چې د امکان په صورت کې په مباحه طريقه هغه پيدا او ضايع کړای شي. (فتح الباري، زادالمعاد)

۲- د شرعي دم په ذريعه:

لاندې آيتونه او مسنون اذکار د ولوستل شي او په مريض د په پورتنی طريقه چف کړای شي.

۳- د امکان په صورت کې دې د سدر (بيرې) شنې پاڼې و ټکول شي او د غسل اندازه اوبو کې د واچول شي (که سدر نه وي نو ساده اوبه کفايت کوي) او دپورتنيو آيتونو (فاتحه، آيت کرسي، معوذات) سربيره (علاوه) دا لاندې آيتونه هم پرې ولوستل شي، او له هغې اوبو نه د مريض (مسحور) څه وڅښې او په پاتې د غسل وکوي،که ضرورت شو نو څو ځله د دا طريقه تکرار کړي، إن شاءالله شفاء ياب به شي.

(فتح الباري، مسلم، مصنف عبدالرزاق، زادالمعاد، فتح المجيد، فتح الحق المبين...)

(c) ketabton.com: The Digital Library

**لاندې آیتونه د الله په اذن سره د سحر ، جادو، نظر او ټولو مرضونه لپاره شفا دي ، د پورتینو لاربښونو مطابق دې پرې مریض دم کړل شي .**

1. **أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ مِنْ هَمْزِهِ و نَفْخِهِ وَنَفْثِهِ** : بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ (١) ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ
ٱلْعَٰلَمِينَ (٢) ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ (٣) مَٰلِكِ يَوْمِ ٱلدِّينِ (٤) إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ (٥) ٱهْدِنَا ٱلصِّرَٰطَ
ٱلْمُسْتَقِيمَ (٦) صِرَٰطَ ٱلَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ ٱلْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا ٱلضَّآلِّينَ (٧) [الفاتحة: 1 ـ 7]

2. **أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ مِنْ هَمْزِهِ و نَفْخِهِ وَنَفْثِهِ**: بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴿ الٓمٓ (١) ذَٰلِكَ ٱلْكِتَٰبُ
لَا رَيْبَ ۛ فِيهِ ۛ هُدًى لِّلْمُتَّقِينَ (٢) ٱلَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِٱلْغَيْبِ وَيُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَمِمَّا رَزَقْنَٰهُمْ يُنفِقُونَ (٣) وَٱلَّذِينَ
يُؤْمِنُونَ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ وَبِٱلْءَاخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ (٤) أُو۟لَٰٓئِكَ عَلَىٰ هُدًى مِّن رَّبِّهِمْ ۖ وَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ
ٱلْمُفْلِحُونَ (٥) ﴾ [البقرة: 1-5]

3. **أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ مِنْ هَمْزِهِ و نَفْخِهِ وَنَفْثِهِ**: بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴿ وَٱتَّبَعُوا۟ مَا تَتْلُوا۟ ٱلشَّيَٰطِينُ
عَلَىٰ مُلْكِ سُلَيْمَٰنَ ۖ وَمَا كَفَرَ سُلَيْمَٰنُ وَلَٰكِنَّ ٱلشَّيَٰطِينَ كَفَرُوا۟ يُعَلِّمُونَ ٱلنَّاسَ ٱلسِّحْرَ وَمَآ أُنزِلَ عَلَى ٱلْمَلَكَيْنِ
بِبَابِلَ هَٰرُوتَ وَمَٰرُوتَ ۚ وَمَا يُعَلِّمَانِ مِنْ أَحَدٍ حَتَّىٰ يَقُولَآ إِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلَا تَكْفُرْ ۖ فَيَتَعَلَّمُونَ مِنْهُمَا مَا يُفَرِّقُونَ
بِهِۦ بَيْنَ ٱلْمَرْءِ وَزَوْجِهِۦ ۚ وَمَا هُم بِضَآرِّينَ بِهِۦ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۚ وَيَتَعَلَّمُونَ مَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنفَعُهُمْ ۚ وَلَقَدْ عَلِمُوا۟
لَمَنِ ٱشْتَرَىٰهُ مَا لَهُۥ فِى ٱلْءَاخِرَةِ مِنْ خَلَٰقٍ ۚ وَلَبِئْسَ مَا شَرَوْا۟ بِهِۦٓ أَنفُسَهُمْ ۚ لَوْ كَانُوا۟ يَعْلَمُونَ (١٠٢) ﴾ [البقرة: 102]

4. **أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ مِنْ هَمْزِهِ و نَفْخِهِ وَنَفْثِهِ** : بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴿ وَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ ۖ لَّآ
إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلرَّحْمَٰنُ ٱلرَّحِيمُ (١٦٣) إِنَّ فِى خَلْقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَٱخْتِلَٰفِ ٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ وَٱلْفُلْكِ ٱلَّتِى تَجْرِى فِى
ٱلْبَحْرِ بِمَا يَنفَعُ ٱلنَّاسَ وَمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مِن مَّآءٍ فَأَحْيَا بِهِ ٱلْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَبَثَّ فِيهَا مِن كُلِّ دَآبَّةٍ
وَتَصْرِيفِ ٱلرِّيَٰحِ وَٱلسَّحَابِ ٱلْمُسَخَّرِ بَيْنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ (١٦٤) ﴾ [البقرة: 163-164]

5. **أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ مِنْ هَمْزِهِ و نَفْخِهِ وَنَفْثِهِ**: بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴿ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلْحَىُّ
ٱلْقَيُّومُ ۚ لَا تَأْخُذُهُۥ سِنَةٌ وَلَا نَوْمٌ ۚ لَّهُۥ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ۗ مَن ذَا ٱلَّذِى يَشْفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا بِإِذْنِهِۦ ۚ يَعْلَمُ مَا
بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ ۖ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَىْءٍ مِّنْ عِلْمِهِۦٓ إِلَّا بِمَا شَآءَ ۚ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ ۖ وَلَا
يَـُٔودُهُۥ حِفْظُهُمَا ۚ وَهُوَ ٱلْعَلِىُّ ٱلْعَظِيمُ (٢٥٥) ﴾ [البقرة: 255].

(c) ketabton.com: The Digital Library

6. **أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ مِنْ هَمْزِهِ و نَفْخِهِ وَنَفْثِهِ:** بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴿ءَامَنَ ٱلرَّسُولُ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيْهِ مِن رَّبِّهِۦ وَٱلْمُؤْمِنُونَ ۚ كُلٌّ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَمَلَٰٓئِكَتِهِۦ وَكُتُبِهِۦ وَرُسُلِهِۦ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّن رُّسُلِهِۦ ۚ وَقَالُوا۟ سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا ۖ غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ ٱلْمَصِيرُ ﴿٢٨٥﴾ لَا يُكَلِّفُ ٱللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا ۚ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا ٱكْتَسَبَتْ ۗ رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَآ إِن نَّسِينَآ أَوْ أَخْطَأْنَا ۚ رَبَّنَا وَلَا تَحْمِلْ عَلَيْنَآ إِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهُۥ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِنَا ۚ رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهِۦ ۖ وَٱعْفُ عَنَّا وَٱغْفِرْ لَنَا وَٱرْحَمْنَآ ۚ أَنتَ مَوْلَىٰنَا فَٱنصُرْنَا عَلَى ٱلْقَوْمِ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٢٨٦﴾﴾ [البقرة 285- 286 ]

7. **أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ مِنْ هَمْزِهِ و نَفْخِهِ وَنَفْثِهِ :** بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴿شَهِدَ ٱللَّهُ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ وَأُو۟لُوا۟ ٱلْعِلْمِ قَآئِمًۢا بِٱلْقِسْطِ ۚ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿١٨﴾ إِنَّ ٱلدِّينَ عِندَ ٱللَّهِ ٱلْإِسْلَٰمُ ۗ وَمَا ٱخْتَلَفَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ إِلَّا مِنۢ بَعْدِ مَا جَآءَهُمُ ٱلْعِلْمُ بَغْيًۢا بَيْنَهُمْ ۗ وَمَن يَكْفُرْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ فَإِنَّ ٱللَّهَ سَرِيعُ ٱلْحِسَابِ ﴿١٩﴾﴾. [آل عمران: 18-19]

8. **أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ مِنْ هَمْزِهِ و نَفْخِهِ وَنَفْثِهِ :** بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴿إِنَّ رَبَّكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ يُغْشِى ٱلَّيْلَ ٱلنَّهَارَ يَطْلُبُهُۥ حَثِيثًا وَٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ وَٱلنُّجُومَ مُسَخَّرَٰتٍۭ بِأَمْرِهِۦٓ ۗ أَلَا لَهُ ٱلْخَلْقُ وَٱلْأَمْرُ ۗ تَبَارَكَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٥٤﴾ ٱدْعُوا۟ رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً ۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلْمُعْتَدِينَ ﴿٥٥﴾ وَلَا تُفْسِدُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ بَعْدَ إِصْلَٰحِهَا وَٱدْعُوهُ خَوْفًا وَطَمَعًا ۚ إِنَّ رَحْمَتَ ٱللَّهِ قَرِيبٌ مِّنَ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٥٦﴾﴾ [الأعراف: 54، 56].

9. **أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ مِنْ هَمْزِهِ و نَفْخِهِ وَنَفْثِهِ :** بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴿وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنْ أَلْقِ عَصَاكَ ۖ فَإِذَا هِىَ تَلْقَفُ مَا يَأْفِكُونَ ﴿١١٧﴾ فَوَقَعَ ٱلْحَقُّ وَبَطَلَ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١١٨﴾ فَغُلِبُوا۟ هُنَالِكَ وَٱنقَلَبُوا۟ صَٰغِرِينَ ﴿١١٩﴾ وَأُلْقِىَ ٱلسَّحَرَةُ سَٰجِدِينَ ﴿١٢٠﴾ قَالُوٓا۟ ءَامَنَّا بِرَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٢١﴾ رَبِّ مُوسَىٰ وَهَٰرُونَ ﴿١٢٢﴾﴾ [الأعراف: 117-122].

﴿وَأُلْقِىَ ٱلسَّحَرَةُ سَٰجِدِينَ ﴿١٢٠﴾﴾ دغه آیت ۳۰ ځلې تکرار شي .

10. **أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ مِنْ هَمْزِهِ و نَفْخِهِ وَنَفْثِهِ :** بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴿فَلَمَّآ أَلْقَوْا۟ قَالَ مُوسَىٰ مَا جِئْتُم بِهِ ٱلسِّحْرُ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ سَيُبْطِلُهُۥٓ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُصْلِحُ عَمَلَ ٱلْمُفْسِدِينَ ﴿٨١﴾ وَيُحِقُّ ٱللَّهُ ٱلْحَقَّ بِكَلِمَٰتِهِۦ وَلَوْ كَرِهَ ٱلْمُجْرِمُونَ ﴿٨٢﴾﴾ [يونس: 81-82]. دغه آیتونه ډیر تکرار شي مخصوصاً دا آیت : ﴿إِنَّ ٱللَّهَ سَيُبْطِلُهُۥٓ﴾.

(c) ketabton.com: The Digital Library

11 . أَعوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيم مِنْ هَمْزِهِ و نَفْخِهِ وَنَفْثِهِ : بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴿وَأَلۡقِ مَا فِي يَمِينِكَ تَلۡقَفۡ
مَا صَنَعُوٓاْۖ إِنَّمَا صَنَعُواْ كَيۡدُ سَٰحِرٖۖ وَلَا يُفۡلِحُ ٱلسَّاحِرُ حَيۡثُ أَتَىٰ ﴿٦٩﴾﴾ [طه: 69] دغه آيت ډير تكرار شي .

12 . أَعوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيم مِنْ هَمْزِهِ و نَفْخِهِ وَنَفْثِهِ : بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴿أَفَحَسِبۡتُمۡ أَنَّمَا خَلَقۡنَٰكُمۡ
عَبَثٗا وَأَنَّكُمۡ إِلَيۡنَا لَا تُرۡجَعُونَ ﴿١١٥﴾ فَتَعَٰلَى ٱللَّهُ ٱلۡمَلِكُ ٱلۡحَقُّۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ رَبُّ ٱلۡعَرۡشِ ٱلۡكَرِيمِ ﴿١١٦﴾ وَمَن يَدۡعُ
مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ لَا بُرۡهَٰنَ لَهُۥ بِهِۦ فَإِنَّمَا حِسَابُهُۥ عِندَ رَبِّهِۦٓۚ إِنَّهُۥ لَا يُفۡلِحُ ٱلۡكَٰفِرُونَ ﴿١١٧﴾ وَقُل رَّبِّ ٱغۡفِرۡ
وَٱرۡحَمۡ وَأَنتَ خَيۡرُ ٱلرَّٰحِمِينَ ﴿١١٨﴾﴾ [المؤمنون: 115-118]

13 . أَعوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيم مِنْ هَمْزِهِ و نَفْخِهِ وَنَفْثِهِ : بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴿وَٱلصَّٰٓفَّٰتِ صَفّٗا ﴿١﴾ فَٱلزَّٰجِرَٰتِ
زَجۡرٗا ﴿٢﴾ فَٱلتَّٰلِيَٰتِ ذِكۡرًا ﴿٣﴾ إِنَّ إِلَٰهَكُمۡ لَوَٰحِدٞ ﴿٤﴾ رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَا وَرَبُّ ٱلۡمَشَٰرِقِ ﴿٥﴾ إِنَّا زَيَّنَّا
ٱلسَّمَآءَ ٱلدُّنۡيَا بِزِينَةٍ ٱلۡكَوَاكِبِ ﴿٦﴾ وَحِفۡظٗا مِّن كُلِّ شَيۡطَٰنٖ مَّارِدٖ ﴿٧﴾ لَّا يَسَّمَّعُونَ إِلَى ٱلۡمَلَإِ ٱلۡأَعۡلَىٰ وَيُقۡذَفُونَ مِن كُلِّ
جَانِبٖ ﴿٨﴾ دُحُورٗاۖ وَلَهُمۡ عَذَابٞ وَاصِبٌ ﴿٩﴾ إِلَّا مَنۡ خَطِفَ ٱلۡخَطۡفَةَ فَأَتۡبَعَهُۥ شِهَابٞ ثَاقِبٞ ﴿١٠﴾﴾ [الصافات: 1-10].

14 . أَعوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيم مِنْ هَمْزِهِ و نَفْخِهِ وَنَفْثِهِ : بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴿وَإِذۡ صَرَفۡنَآ إِلَيۡكَ نَفَرٗا مِّنَ
ٱلۡجِنِّ يَسۡتَمِعُونَ ٱلۡقُرۡءَانَ فَلَمَّا حَضَرُوهُ قَالُوٓاْ أَنصِتُواْۖ فَلَمَّا قُضِيَ وَلَّوۡاْ إِلَىٰ قَوۡمِهِم مُّنذِرِينَ ﴿٢٩﴾ قَالُواْ يَٰقَوۡمَنَآ إِنَّا
سَمِعۡنَا كِتَٰبًا أُنزِلَ مِنۢ بَعۡدِ مُوسَىٰ مُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ يَهۡدِيٓ إِلَى ٱلۡحَقِّ وَإِلَىٰ طَرِيقٖ مُّسۡتَقِيمٖ ﴿٣٠﴾ يَٰقَوۡمَنَآ أَجِيبُواْ
دَاعِيَ ٱللَّهِ وَءَامِنُواْ بِهِۦ يَغۡفِرۡ لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمۡ وَيُجِرۡكُم مِّنۡ عَذَابٍ أَلِيمٖ ﴿٣١﴾ وَمَن لَّا يُجِبۡ دَاعِيَ ٱللَّهِ فَلَيۡسَ بِمُعۡجِزٖ فِي
ٱلۡأَرۡضِ وَلَيۡسَ لَهُۥ مِن دُونِهِۦٓ أَوۡلِيَآءُۚ أُوْلَٰٓئِكَ فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٍ ﴿٣٢﴾﴾ [الأحقاف: 29-32]

15 . أَعوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيم مِنْ هَمْزِهِ و نَفْخِهِ وَنَفْثِهِ بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ :﴿يَٰمَعۡشَرَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِ إِنِ
ٱسۡتَطَعۡتُمۡ أَن تَنفُذُواْ مِنۡ أَقۡطَارِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ فَٱنفُذُواْۚ لَا تَنفُذُونَ إِلَّا بِسُلۡطَٰنٖ ﴿٣٣﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا
تُكَذِّبَانِ ﴿٣٤﴾ يُرۡسَلُ عَلَيۡكُمَا شُوَاظٞ مِّن نَّارٖ وَنُحَاسٞ فَلَا تَنتَصِرَانِ ﴿٣٥﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٣٦﴾﴾ [الرحمن: 33-
36]

16 . أَعوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيم مِنْ هَمْزِهِ و نَفْخِهِ وَنَفْثِهِ بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ : ﴿لَوۡ أَنزَلۡنَا هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانَ
عَلَىٰ جَبَلٖ لَّرَأَيۡتَهُۥ خَٰشِعٗا مُّتَصَدِّعٗا مِّنۡ خَشۡيَةِ ٱللَّهِۚ وَتِلۡكَ ٱلۡأَمۡثَٰلُ نَضۡرِبُهَا لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمۡ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٢١﴾ هُوَ ٱللَّهُ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ٱلَّذِى لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ عَٰلِمُ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ ۖ هُوَ ٱلرَّحْمَٰنُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٢٢﴾ هُوَ ٱللَّهُ ٱلَّذِى لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلْمَلِكُ ٱلْقُدُّوسُ
ٱلسَّلَٰمُ ٱلْمُؤْمِنُ ٱلْمُهَيْمِنُ ٱلْعَزِيزُ ٱلْجَبَّارُ ٱلْمُتَكَبِّرُ ۚ سُبْحَٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٢٣﴾ هُوَ ٱللَّهُ ٱلْخَٰلِقُ ٱلْبَارِئُ
ٱلْمُصَوِّرُ ۖ لَهُ ٱلْأَسْمَآءُ ٱلْحُسْنَىٰ ۚ يُسَبِّحُ لَهُۥ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٢٤﴾﴾ [الحشر: 21ـ 24]

17 . أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ مِنْ هَمْزِهِ و نَفْخِهِ وَنَفْثِهِ : بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ : ﴿قُلْ أُوحِىَ إِلَىَّ أَنَّهُ ٱسْتَمَعَ
نَفَرٌ مِّنَ ٱلْجِنِّ فَقَالُوٓا۟ إِنَّا سَمِعْنَا قُرْءَانًا عَجَبًا ﴿١﴾ يَهْدِىٓ إِلَى ٱلرُّشْدِ فَـَٔامَنَّا بِهِۦ ۖ وَلَن نُّشْرِكَ بِرَبِّنَآ أَحَدًا ﴿٢﴾ وَأَنَّهُۥ تَعَٰلَىٰ جَدُّ
رَبِّنَا مَا ٱتَّخَذَ صَٰحِبَةً وَلَا وَلَدًا ﴿٣﴾ وَأَنَّهُۥ كَانَ يَقُولُ سَفِيهُنَا عَلَى ٱللَّهِ شَطَطًا ﴿٤﴾ وَأَنَّا ظَنَنَّآ أَن لَّن تَقُولَ ٱلْإِنسُ وَٱلْجِنُّ
عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا ﴿٥﴾ وَأَنَّهُۥ كَانَ رِجَالٌ مِّنَ ٱلْإِنسِ يَعُوذُونَ بِرِجَالٍ مِّنَ ٱلْجِنِّ فَزَادُوهُمْ رَهَقًا ﴿٦﴾ وَأَنَّهُمْ ظَنُّوا۟ كَمَا ظَنَنتُمْ أَن
لَّن يَبْعَثَ ٱللَّهُ أَحَدًا ﴿٧﴾ وَأَنَّا لَمَسْنَا ٱلسَّمَآءَ فَوَجَدْنَٰهَا مُلِئَتْ حَرَسًا شَدِيدًا وَشُهُبًا ﴿٨﴾ وَأَنَّا كُنَّا نَقْعُدُ مِنْهَا مَقَٰعِدَ
لِلسَّمْعِ ۖ فَمَن يَسْتَمِعِ ٱلْـَٔانَ يَجِدْ لَهُۥ شِهَابًا رَّصَدًا ﴿٩﴾﴾ [الجن: 1-9]

18 . أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ مِنْ هَمْزِهِ و نَفْخِهِ وَنَفْثِهِ : بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ : ﴿قُلْ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ﴿١﴾
ٱللَّهُ ٱلصَّمَدُ ﴿٢﴾ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ ﴿٣﴾ وَلَمْ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدٌۢ ﴿٤﴾﴾ [الإخلاص: 1-4]

19 . أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ مِنْ هَمْزِهِ و نَفْخِهِ وَنَفْثِهِ : بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ : ﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلْفَلَقِ
﴿١﴾ مِن شَرِّ مَا خَلَقَ ﴿٢﴾ وَمِن شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ ﴿٣﴾ وَمِن شَرِّ ٱلنَّفَّٰثَٰتِ فِى ٱلْعُقَدِ ﴿٤﴾ وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ
﴿٥﴾﴾ [الفلق: 1-5]

دغه آيت : ﴿وَمِن شَرِّ ٱلنَّفَّٰثَٰتِ فِى ٱلْعُقَدِ ﴿٤﴾﴾ ډير تكرار كړل شي .

20 . أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ مِنْ هَمْزِهِ و نَفْخِهِ وَنَفْثِهِ : بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ :﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ
﴿١﴾ مَلِكِ ٱلنَّاسِ ﴿٢﴾ إِلَٰهِ ٱلنَّاسِ ﴿٣﴾ مِن شَرِّ ٱلْوَسْوَاسِ ٱلْخَنَّاسِ ﴿٤﴾ ٱلَّذِى يُوَسْوِسُ فِى صُدُورِ ٱلنَّاسِ ﴿٥﴾ مِنَ
ٱلْجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ ﴿٦﴾﴾ [الناس: 1-6]

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نظر (سترګو) علاج

## له نظر لګیدو نه وړاندې تدابیر :

۱- د بد نظر لګیدو نه د ځان ساتلو لپاره دې هغه ټول احتیاطي تدابیر اختیار کړای شي چې د سحر نه د ژغورنې لپاره پورته ذکر شول.

۲- څوک چې له خپلو سترګو ډاریږي چې بل څوک نظر نه کړي هغه ته پکار ده چې کله هم تعجب آور او د خوښې شی وګوري نو هغې ته دې د برکت دعا وکړي. (موطأ، ابن ماجه، أحمد)

او ودې وایي: ماشاءالله تبارک الله، لا حول ولا قوة إلا بالله. (زادالمعاد)

۳- د چا د نظر کیدو احساس چې وشي د هغې محاسن باید پټ کړای شي. (زادالمعاد، شرح السنة للبغوي)

## د نظر لګیدو نه وروسته دهغې علاج :

۱- که نظر کونکی کس معلوم شي د هغې نه باید و غوښتل شي چې اودس وکړي او بیا د په هغې اوبو نظرکړی شوی مریض غسل وکړي. (سنن ابوداود، زادالمعاد)

۲- پورته ذکر شوی شرعي دم لوستل او هغه په مریض ور چف کول.

۳-پورته ذکر شوی شرعي دم لوستل او هغه په اوبو کې چف کول، او له هغې اوبو نه به نظر شوی مریض څه څښي او په پاتې به غسل کوي. (سنن أبوداود)

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**